لیکواله: ډاکټره منتهی ارتلیم زویم
ژباړن: محمد عارف رسولي

۲۰۲۶/۰۵/۲۹

# د مالک بن نبي فکري میراث

**د ژباړن سریزه**

درنو لوستونکو! زه غواړم تاسو ته د تمدن د احیا، پراختیا او دوام یو مخکښ فیلسوف او لیکوال در وپیژنم تر څو په راتلونکي کې د هغه د فکر، مبارزو، لیکنو، تالیف شوو کتابونو د معرفي لپاره لاره اواره شي. پوهان او څیړونکي په دې اند دي، چې مالک بن نبي د علامه ابن خلدون په څیر د تمدن د احیا لپاره مهم مفکر او فیلسوف دی، هغه د ربښتیني ازادی تلپاتې پراختیا د مولفو او شرایطو تر ټولو پیژندل شوی مبارز، مفکر او لیکوال تیر شوی او د ورځې په تیریدو د هغه افکار خپل جوهر ثابتوي.

دا روښانه خبره ده چې په شخړو وهلو او وروسته ساتل شوو ټولنو او ملتونو کې چې خلک یې ویشل شوي، ناهیلي او نیابتي جګړو وهلي وي، د یو سالم او متحد کوونکي فکر رامنځته کول او ثمر ته رسول تر ټولو ستره ننګونه وي. د نړۍ د ډیرو کارپوهانو په اند مالک بن نبي د داسې فکر د رامنځته کولو لپاره یو ممتاز شخصیت دی. له همدې کبله، په وروستیو لسیزو کې، چې لاندې ژباړل شوې لیکنه یې ښه نښه ده، د شمالي افریقې او الجزایر څخه تر مالیزیا پورې د مالک بن نبي افکارو او کتابونو ځانته پاملرنه راجلب کړې ده.

د مالک بن نبي فکر، تحلیلونه، مبارزې او لیکنې د دریمې نړۍ په ځان ګړي د دول اسلامي هیوادونو د اصلاح غوښتونکو روڼ اندو لپاره د مثبتو لرلیدونو، پروګرامونو او پلانونو په رامنځته کولو کې خورا مهم ځای لری. هیله ده لاندې لیکنه د مالک بن نبي له فکر، لیکنو او مبارزو په معرفي کې مرسته وکړه. دا به موږ ته لاره اواره کړي چې د تمدن د احیا او د ملتونو د پرمختګ او واک او ځواک لرونکو مشروع نظامونو د رامنځته کولو د فیلسوف له لیکنو او فکر څخه، په راتلونکي کې ګټه واخلو.

**مالک بن نبي او میراث یې**

د دغه متن پښتو ژباړه چې د الجزایر مشهور فیلسوف، مفکر، لیکوال او د دریمې نړۍ او په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ په دردونو دردمند مالک بن نبي (Malik Bennabi) د فکري میراث په اړه د مالیزیا په نړیوال پوهنتون کې د نوي کتاب د معرفي غونډه او د هغې اهمیت په ګوته کوي، په لاندې توګه ده:

**د مالک بن نبي (۱۹۰۵–۱۹۷۳) د فکري میراث څرګندول: د یو لوستونکي علمي سفر**

**د مېلمه لیکواله: ډاکټره منتهی ارتلیم زویم د خپرېدو نېټه: د ۲۰۲۵ کال د مارچ ۴مه**

«د بن نبي د فلسفي د اډاني په زړه کې یو داسې ځواکمن او ژور فکري سفر پروت دی چې د تمدني رغونې او نوي کېدو پر لور متمرکز دی. د دغو بنسټیزو موضوعاتو په اړه د هغه لید لوری هغومره بې‌مهاله او تلپاتې دی، څومره چې د بدلون راوړونکی دی.» — **د مالیزیا لومړی وزیر، داتو سري انور ابراهیم**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**د غونډې مخینه**

د ۲۰۲۵ کال د فبرورۍ په ۵مه نېټه (چې د ۱۴۴۶ هجري قمري کال د شعبان له ۶مې سره برابره وه)، د «مالک بن نبي موندنې: د استعماري مډرنیټې په توپان کې یو مسلمان لیدونکی» تر سرلیک لاندې، د نوي کتاب مخکتنه وشوه. د دغه نوي اثر د چاپېدو اعلان د مالیزیا د نړیوال اسلامي پوهنتون (IIUM) د اسلامي فکر او تمدن په نړیواله څېړنیزه اداره (ISTAC) کې په یوې شانداره غونډه کې وشو. په دې تاریخي غونډه کې ګڼ شمېر مخکښو اسلامي پوهانو، فکري مرکزونو(Think Tanks) ، د ماسټرۍ او ډاکټرۍ د دکچې محصلینو او روڼ اندو برخه اخیستې وه.

دا کتاب د پروفیسور ډاکټر محمد الطاهر المساوي (Prof. Dr. Mohamed El-Tahir El-Mesawi) لخوا لیکل شوی، چې د مالک بن نبي د افکارو پېژندل شوی کارپوه دی. نوموړی په یاد پوهنتون کې د "مقاصد الشریعة" او د معاصر اسلامي فکر د څانګې لوړپوړی او وتلی استاد دی او له څو لسیزو راهیسې یې په دې برخه کې ارزښتمن خدمتونه کړي دي.

د غونډې ارزښت هغه مهال لا زیات شو کله چې د مالیزیا لومړي وزیر، انور ابراهیم پخپله د دغه کتاب پرانسته وکړه. د غونډې یو مهم هدف د اسلامي تمدن په پېژندلو او د اسلامي امت د ننګونو په درک کولو کې د بن نبي د افکارو پر اهمیت ټینګار کول وو.

مالک بن نبي (۱۹۰۵–۱۹۷۳) یو الجزایري مسلمان متفکر و چې د اسلامي تمدن د مسایلو او ستونزو په اړه د خپلو ژورو بحثونو له امله شهرت لري. هغه په اسلامي نړۍ کې د زوال عوامل په هر اړخیزه توګه وڅېړل او د «ایډیاګانو د تکامل» پر بنسټ یې حل‌لارې وړاندې کړې. د هغه نظریې لکه «د استعمار منلو وړتیا (colonisabilité) «او «قرآني /پدیده» (le phénomène coranique) د اسلامي امت د بیا رابیدارولو په فکري بحثونو کې ژورې اغېزې ښندلې دي.

تمه کېږي چې د دغه کتاب په خپرېدو سره به د بن نبي افکار په پراخه کچه وپېژندل شي او د راتلونکو نسلونو د علمي او سیاسي مشرانو لخوا به وڅېړل شي. دا اثر د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ د راتلونکو څېړنو په پراختیا کې یو مهم ګام دی.

**له مالک بن نبي سره د لومړي وزیر انور ابراهیم مینه او لېوالتیا**

دا د وياړ خبره ده چې یو سیاسي شخصیت، په ځانګړې توګه یو لومړی وزیر، د داسې لویو علمي کارونو ستاینه کوي. په دې اړه څېړنې ښیي چې انور ابراهیم له پخوا څخه له مالک بن نبي سره ژور فکري او تاریخي پیوستون لري.

لومړي وزیر ټینګار وکړ چې له ځوانۍ راهیسې د بن نبي د افکارو مینه وال پاتې شوی دی. هغه په خپل یو شخصي یادښت کې لیکي:

«زه د خپل ځوانۍ او د مالیزیا د اسلامي ځوانانو په غورځنګ (ABIM) کې د کار کولو له وختونو راهیسې د بن نبي یو ارادتمن زده کوونکی یم او لا هم د هغه په اثارو کې د حکمت او عملي کولو نوي اړخونه مومم.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ

دا ترٙاو له ۱۹۷۱ کال راهيسي شتون لري، کله چي ABIM بنسټ کېښودل شو او انور ابراهيم يې مشر و. نوموړي د بن نبي په اړه په څو نړيوالو کنفرانسونو کې د کليدي ويناوال په توګه هم ګډون کړی دی. له همدې امله د ياد پوهنتون رئيس، پروفيسور عثمان باقر، انور ابراهيم د مالک بن نبي د افکارو يو سرسخته مينه وال بللی دی.

لومړي وزير د دغه کتاب په سريزه کې، د مالک بن نبي فکري کچه د ابن خلدون په څېر له سترو اسلامي شخصيتونو سره برابره ګڼلې ده. هغه د بن نبي په اثارو کې د «ارزښتونو» (قېمونو) پر لومړيتوب او د اسلامي فکر د اصلاح او نوي کولو لپاره د هغه پر ژمنتيا ټينګار وکړ. د انور ابراهيم په وينا، هغه څه چې بن نبي له نورو مصلحينو جلا کوي دا دي چې هغه خپله فکري تګلاره په بشپړه توګه په اسلامي اصولو کې اډانه کړې وه او هيڅکله له دين څخه د وتلو ملاتړی نه و.

**د کتاب د جوړښت لنډيز**

دا کتاب د هغو انګليسي ژبو لوستونکو لپاره يو خورا مهم اخځليک دی چې غواړي د بن نبي له افکارو په سيستماتيک ډول ګټه پورته کړي. د کتاب ځانګړتياوې په لاندې جدول کې کتلای شئ:

| **ځانګړتيا** | **تفصيلات** |
|---|---|
| **د کتاب نوم** | A Malik Bennabi Reader: A Muslim Visionary in the Whirlwind of Colonial Modernity |
| **ليکوال/ايډيټر** | پروفيسور ډاکټر محمد الطاهر المساوي |
| **د ټوکو شمېر** | **(۲ ټوکه)** ټولې پاڼې: ۱۱۰۵ مخونه — لومړی ټوک: ۵۰۶ مخونه، دويم ټوک: ۵۹۹ مخونه |
| **ژباړل شوي اثار** | په کتاب کې د مالک بن نبي ۸۸ **بېلابېل اثار** له فرانسوي او عربي څخه انګليسي ته ژباړل شوي او تشريح شوي دي. |

**اووه بنسټيز محورونه**

پروفيسور المساوي د بن نبي ژباړل شوي اثار په اوو برخو وېشلي دي:

1. **(ديني مسايل) :**د ټولنيز حرکت معنوي محور
2. **(ټولنيزې موضوعګانې) :**د ټولنې د ننه د اړيکو ډيناميک
3. **(کلتور او فرهنګ) :**د يوې دورې رواني او فکري ذوق
4. **(ټولنيز-تاريخ او تمدن) :**د ملتونو د عروج او زوال قوانين
5. **(سياست او پاليسي) :**د حکومتولۍ د مديريت اډانې
6. **(اقتصاد) :**د ټولنيزو هڅو مادي کارونه
7. **(په مدرنه نړۍ کې د اسلام او مسلمانانو رول) :**له غربي مدرنيتې سره تعامل

**د استعمار د ذهنيت ننګول او د «کونويبنسيا» غوښتنه**

په غونډه کې ووېل شول چې د بن نبي لخوا د استعمار منلو (Colonosibilité) اصطلاح په حقيقت کې «استعمار شوي ذهنيت» ته اشاره کوي؛ داسي يو ذهنيت چې حتی د استعماري ځواکونو له فزيکي وتلو وروسته هم د هغوی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

تسلیم پاتې کېږي او په ټولنه کې د فکري جمود او سیاسي بې‌ثباتۍ لامل ګرځي. بن نبي د ریښتینې ازادۍ غوښتونکی و چې د ټولنې د فکري او معنوي بنسټونو په رغولو پیل کېږي.

(لومړي وزیر خپله وینا د **"Convivencia"** کونویوینسیا) د روحیې د بیا ژوندي کولو په غوښتنې سره پای ته ورسوله. دا اصطلاح د اسلامي اندلس هغې تاریخي دورې ته اشاره کوي چې د پوهې، فلسفي خبرو اترو او د بېلابېلو کلتورونو ترمنځ د نږدېوالي او سوله ییز ژوند نښه وه. هیله ښودل شوې چې مالیزیا هم د بېلابېلو فکرونو، کلتورونو او حکمتونو د تبادلې په یو داسې مرکز بدله شي چې د فکري جمود په له منځه وړلو کې مرسته وکړي.



د ښاغلی محمد عارف رسولی نور مضامین په دی لینک کی لوستی شي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ